**د افغانســــتان اسلامی جـــمهوری دولت**

# د مخابراتو او معلــوماتی تکــــنالوجی وزارت

## مطــبوعاتی اعــلامیه

**نیته : د تلې میاشتی ۱۹ کال ۱۳۹۱**

**موضــوع: د مخابراتی خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د افغانستان د مصنوعی سپوږمکیو له ثابت مدار څخه د ګټې اخیستنې د داوطلبی شرطپانه اعلان شوه.**

**د افغانستان د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی وزارت د سکتوری انکشافی پروګرامونو په لړ کې د نوموړی هیواد اړوند د ځمکې د مخابراتی مصنوعی سپوږمکیو د ثابت مدار څخه د ګټې اخیستنې عملی ګام پیل او د قانون د حکمونو سره سم د اړوندې داوطلبئ شرطپانه د ۱۳۹۱ لمریز کال د تلې په ۱۸ نیته چې د ۲۰۱۲ میلادی کال د اکتوبر له ۹ نیټې سره سمون لري د www.mcit.gov.af او www.atra.gov.af رسمی ویب سایټونو له لارې اعلان شوه.**

افغانستان په وروستئ لسیزه کې د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی سکتور په برخه کې د بنسټیزو بدلونونو په رامنځ ته کولو او لاسته راوړنو سره د خپل ملي اقتصاد او ټولنیزې ودې د لا پیاوړتیا په لور ګړندي ګامونه اخلي .

په هیواد کې د نوری فایبر د ملی او ولایتی شبکو غځووني، د دیجیټل ښاري ټیلفوني شبکو، د موبایل ټیلفوني او انټرنیټی پراخ پوښښ او په دې وروستیو کې د دریم نسل تکنالوجی او وایمکس د چټکو خدمتونو او په نورو سکتوری برخو لکه پوهني، بانکونو، دولتي او خصوصی چارو، تجارت او روغتیا کې د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی په عملي ګټې اخیستنې سره نن افغانستان له له نړیوالي معلوماتی ټولنې سره یوځای شوی ده.

افغانستان د نوموړو لاس ته راوړنو سره سره چې په لړه موده کې د مخابراتو او اړونده خدمتونو د چټک پرمختګ له کبله د سیمي او نړی په کچه یو نمونه هیواد بلل کیږي، د خپل جغرافیایی موقیعت، ځمکنئ پیچلــتیا، سراسری پوښښ ، د زیربنایی بنسټونو د پراختیا د اقتصادی توب او امنیتی شرایطو له پلوه یو لړ محدودیتونه هم لری. نو له همدې کبله د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی وزارت پر یو بل نوښت لاس پوری کو تر څو د پورتنیو محدودیتونو د رفع کولو تر څنګ په هیواد کې د مخابراتي سکتور ستراتیژیکو موخو ته د رسیدو لپاره د نوموړي هیواد اړوند د مخابراتی مصنوعی سپوږمکیو د ثابت مدار له ځایګي څخه چې د

استوایی فضا په ۵۰ درجو شرقی طول البلد کې قرار لري او تر اوسه پورې کاروول شوی نه وو، پر وخت کټه واخلی.

په نوموړې فضایی ځایګي کې د مصنوعي سپوږمکۍ د ځای پرځای کیدو سره به له یوې خوا لیری پرتو سیمو ته په ملي کچه د مخابراتو خدمتونو رسیدل اسانه او اقتصادی شي، او له بله پلوه به د هیواد هر ګوټ له نړی سره وصل او په هر ډول شرایطو کې به راز راز مخابراتي خدمنونو لکه ټلیفوني، متنی، انترنیتي، رادیویی، تلویزیوني، دولتی مخابرات، له لیري واټن څخه پوهنیزې او روغتیایی چارې، په عاجلو حالاتو کې د خبرتیاوو اوهمدارنګه په نورو سکتوری برخو کې د ګرځنده مخابرو د هر اړخیزې کاروونې چارې اسانه او ډېري شي.

د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی وزارت او د مخابراتي خدمتونو د تنظیم ادارې (آترا) د مصنوعی سپوږمکیو د ثابت مدار د کاروونې لپاره په نړیواله کچه د اړونده معلوماتو د راټولولو او تحلیل پر بنسټ او د هیواد د قوانینو د حکمونو سره سم د داوطلبي پروسه پیل کړه او په هغې کې یې د علاقې لرونکو شرکتونو دخبرتیا او ګډون لپاره شرطـپانه (ټینډر) اعلان ته وسپارل .

**په دې توګه ټول هغه شرکتونه چې د مصنوعی سپوږمکیو د ثابت مدار د کاروونې لپاره د علاقې، توان او تجربی لرونکي وی، کولای شي چې د نوموړي شرطـپاڼې (ټینډر) په مطابق خپل آفــرونه د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی وزارت د مخابراتي خدمتونو د تنظیم ادارې (آترا) ته په لیکلی ډول د ۲۰۱۲ میلادی کال د اکتوبر تر ۹ نیټې پورې په لاندینۍ پتې وسپاري .**

Chairman of ATRA,
Attention of Legal and Licensing Affairs Department,
Afghanistan Telecommunications Regulatory Authority,
10th Floor, MCIT Building,
Mohammad Jan Khan Watt,
Kabul,
Afghanistan

**شرکتونه کولای شي چې د اړتیا په صورت کې د نوموړې پروسې په اړه د معلوماتو لپاره په لاندینی تیلفوني شمیرې او بریښنا لیک اړیکه ونیسی:**

Tel: +93 20 2105361
Website: www.atra.gov.af